مطبوعاتي اعلاميه

## په سیمه کې د هند رول په منځني ختیځ کې د «اسراییلو» د رول په څېر دی!

د افغانستان لپاره د هند ځانګړي استازي، جي پي سينګ، د افغانستان د بهرنيو چارو له سرپرست وزير سره په ليدنه کې ويلي؛ نوی ډهلی غواړي چې په سياسي او اقتصادي برخو کې له کابل سره خپلې اړيکې پراخې کړي. د بهرنيو چارو سرپرست وزير مولوي اميرخان متقي هم په ياده ليدنه کې د هند له «بشردوستانه» مرستو څخه مننه کړې او له ډهلي سره يې د کابل د اړيکو د پياوړتيا غوښتنه کړې ده. د بهرنيو چارو وزارت وياند پر ايکس ليکلي چې؛ جي پي سينګ د امنيت له ټينګښت او د داعش او نشه‌يي توکو پر وړاندې له مبارزې څخه خوښي ښکاره کړې ده. همدا شان د اوسني دولت وياند ذبيح الله مجاهد ويلي: «دواړو اړخونو په ډيپلوماټيکو او اقتصادي برخو کې د دواړو هېوادونو پر اړيکو خبرې اترې کړې دي. هند په سيمه کي له مهمو هېوادونو څخه دی او اسلامي امارت غواړي چې له هند سره ښې اړيکې ولري».

د حزب التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر په دې اړه اوسنيو حکامو او د افغانستان مسلمان او مجاهد ولس ته لاندې ټکي بيانوي:

۱. د هند حکومت تل په دې لټه کې دی چې په افغانستان کې فعال رول ولري. دا رول له هغه راوروسته ډېر د بحث وړ دی چې په سيمه کې د امريکا نوی ماموريت پيل شوی دی. امريکا غواړي چې په سيمه کې د هند ماموريت پياوړی وي؛ په ځانګړې توګه د چين په مهارولو کې. همدا لامل دی چې امريکا او غرب په هند کې د مودي د حکومت پر ټولو جنايتونو سترګې پټوي، تر څو هند په سيمه کې د امريکا د سياسي، نظامي، اقتصادي او استخباراتي متحد په توګه دقيق رول ادا کړي. په حقيقت کې په جنوبي اسيا کې د هند رول په منځني ختيځ کې د اسراييلو د رول په څېر دی.

۲. امريکا د خپلو دوو سياسي متحدينو (هند او پاکستان) تر منځ هند ته ترجيح ورکړې ده. پر افغانستان د دغې ترجيح ورکونې اغېز دا دی چې هند د اقتصاد او تجارت تر نامه لاندې د افغانستان حکومت ته د نږدې کېدو په حال کې دی او برعکس له پاکستان سره د افغانستان اړيکې ورځ تر بلې خړې پړې کېږي. د امريکا پاليسي همدا ده چې هند بايد د سيمې د هېوادونو د رهبري کوونکي رول پر غاړه ولري، له چين سره پر مبارزه تمرکز وکړي او د پاکستان له لوري انديښنه ونه لري. همدغه دليل دی چې پاکستان يې له افغانستان سره ښکېل او بوخت کړی دی. د پاکستان خاينه سياسي او نظامي رهبري په دې برخه کې په دوامدار ډول له امريکايي پاليسۍ سره مرسته کوي.

۳. هند غواړي چې د افغانستان له اوسني دولت سره د امريکايي تعامل (تهديد او تشويق) په قضيه کې پياوړی نقش ولري. په دې توګه چې په وروستيو دربيو کلونو کې امريکا هڅه کړې چې د سيمې او منځنۍ اسيا د

هیوادونو له لارې خپله طرحه پر افغانستان تحمیل کړي، تر څو د افغانستان اوسنی حکومت په بشپړ ډول په نړیوال سیکولر نظم کې مدغم شي. په داسې حال کې چې په دې برخه کې غربي هېوادونه او د سیمې هېوادونه د یوې سکې دوه مخونه دي.

۴. د مودي دولت د دې تر څنګ چې له «اسراییلو» سره نږدې اړیکې لري، له اسراییلوسره په همغږۍ او ګام په ګام د مسلمانانو پر وړاندې تروریستي اعمال ترسره کوي او پر وړاندې یې د دښمنۍ پالیسي تعقیبوي. د مسلمانانو ټولوژنه د مودي تېر ژوند یوه برخه ده او هغه اوس نه یوازې په کشمیر کې، بلکې په ټول هند کې د دیني تصفیې پر پالیسۍ کار کوي. د هندوتوا دولت غواړي چې په هند کې اسلامي شعائر، ارزښتونه او آن په هند کې د مسلمانانو د تمدن نښې له منځه یوسي. پیغمبر صلی الله علیه وسلم او ام المؤمنین عائشه رضي الله عنها ته د BJP د غړو توهین او دغه راز د بابري مسجد ړنګول او پر ځای یې د هندویي معبد جوړول د دې بېلګې دي. د هند دولت نه یوازې دا چې د کشمیر اشغالګر دی؛ پر دې سربېره د مسلمانانو له ځپلو، وژلو، حجاب ته له سپکاوي، اختطاف او پر مسلمانو ښځو له تېري څخه مخ نه اړوي. د ۲۰۲۳م کال د جولای پر ۲۹مه په کورنیو چارو کې د هندو دولت وزیر تایید کړه چې له ۲۰۱۹م کال راپدیخوا ۹۷٦٥ تنې ښځې په اشغال شوي کشمیر کې ترېتم شوي، چې له دې ډلې ۱۱۴۸ تنې یې تر ۱۸ کلنۍ کمعمره نجونې دي.

پایله دا چې؛ امریکا غواړي د هند له دولت سره د اسلامي هېوادونو د اړیکو په ښه کولوسره په اسلامي خاورو کې د دغه خبیث دولت رول پیاوړی او نفوذ، مشروعیت او بقا یې تضمین کړي، لکه څه ډول چې د اسلامي خاورو خاینو واکمنانو د «اقتصاد محوره» بهرني سیاست تر عنوان لاندې دغه کار له یهودو سره وکړ؛ د هغو جنایتونو ته یې مشروعیت ورکړ او بقا یې ورته تضمین کړه. له بله اړخه؛ له بالفعل محاربو، دښمنو، اشغالګرو او د مسلمانانو له قاتلو دولتونو سره هر ډول دوستانه اړیکې، نه یوازې دا چې د شریعت خلاف دي، بلکې مسلمانه ټولنه د دښمنپېژندنې په موضوع کې تېرباسي. ځکه مسلمانان باید وپوهېږي چې د هغوی دوست او دښمن څوک دی او دا یوازې د راشده خلافت په دولت سره ممکنه ده؛ چې له یوه اړخه د دغه دولت بهرنی سیاست د دعوت او جهاد له لارې د اسلام پر حمل ولاړ دی او له بله اړخه یې ولاء یوازې له الله سبحانه و تعالی، رسول الله صلی الله علیه وسلم او مومنانوسره ده. د نبوت پر منهج خلافت دولت په بهرني سیاست کې د دې تر څنګ چې دوست او دښمن واضح کېږي، د مظلوم لاسنیوی او نصرت کېږي او ظالم تهدیدېږي، وېرول کېږي او ځپل کېږي.

د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر

**ګڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۵/۱۰**

٢٠٢٤/٣/١١

د رمضان اول ١٤٤٥